Nazdik Shodan

<u>رسنیزه خبرتیا</u>

**د روشن مخابراتي شرکت خپل بيا طراحي شوی د خدمتونو او خرڅلاو مرکز افتتاح کړ**

د حوت ۱۲مه، ۱۳۹۴(کابل، افغانستان): روشن، د هیواد مخکښه مخابراتي شرکت د کابل ښار په لسمه ناحیه کی خپل بیا طراحي شوی د خدمتونو او خرڅلاو مرکز د یوی ځانګړی غونډی په ترڅ کی افتتاح کړ.

د خدمتونو او خرڅلاو دغه مرکز پیرودونکو ته د نوی ټکنالوژي سره عالي خدمتونه او متفاوته اوغوره تجربه وړاندی کوي.

دغه پلورنځی نه یوازی په نوی ټکنالوژی سمبال شوی بلکه ډیر نور بی ساري خدمتونه لکه یوه عصري قهوه خانه، وړیا وایفای انټرنیټ(Wifi)، او چاپي خدمتونه چی د مشهوری آمریکایی کمپنۍ(Cartridge World) لخوا چمتو شوي، وړاندی کوي. همدارنګه د (Afghan United) موبایل پلورنځي نماینده ګي چی مختلف ټلیفونونه وړاندی کوي، هم د خدمتونو اوخرڅلاو په دغه مرکز کی شته دی.

.

د روشن مخابراتي شرکت عملیاتي رییس، ښاغلي الطاف لاډک د خپلو خبرو په ترڅ کی وویل:"دا اول ځل دی چی پیرودونکی د خرڅلاو په یو مرکز کی دا ټول خدمتونه تر لاسه کوي. دا یوازی د پیرودونکو د خدمتونو مرکز نه بلکه دهغوی د ژوندی د سبک ښودونکی دی."

د دی ټولو څخه مهمه دا ده، چی د خرڅلاو په دی مرکز کی زمونږ هموطنانو ته د کارموندندی موکه برابریږي او همدارنګه زمونږ پیرودونکو ته یکی لا غوره خدمتونه وړاندی کیږي چی په افغانستان کی د سوداګری پراختیا ته د روشن شرکت د تلپاتی ژمنتیا ښکارندوی دی. د روشن مخابراتي شرکت په افغانستان کی د یو مثبت تغیر لپاره د کتلست په توګه فعالیت کوي او افغانستان ته د نوی ټکنالوژئ راوستلو او د مختلفو قومونو او قشرونو څخه د افغانانو د یوځای کولو لپاره هڅه کوي.

د روشن مخابراتي شرکت په افغانستان کی د خرڅلاو او خدمتونو ۹ مرکزونه، ۴۶۰۰ د خرڅلاو محلونه، ۴۰۰ غرفی او ۱۲۰ د پیرودونکو د خدمتونو مرکزونه په ټولو ۳۴ ولایتونو کی منځته راوړي تر څو د ۶،۵ ملیونو څخه ډیرو پیرودونکو ته مخابراتي خدمتونه چمتو کړای شي.

## د روشن په اړه

روشن (دافغانستان دمخابراتو د پراختیا شرکت) د افغانستان مخکښه مخابراتي کمپنۍ ده چی تر ۶،۵ میلونو څخه ډیر فعاله پیرودونکي او تر ټولو غوره شبکه لري چی د هیواد په ۳۴ ولایتونو کی د ۲۸۷ څخه ډیري ولسوالی او ښارونه یي د پوښښ لاندې راوستي دي.

روشن د افغانستان د برياوو ښه نمونه ده چی د هیواد په پرمختګ کې فعاله ونډه لري. په ۲۰۰۳ کال کې د فعالیت پیلولو څخه تر دې دمه یې په افغانستان کې ۶۰۰ میلونه ډالره پانګه اچونه کړې ده او د هیواد تر ټولو لویه پانګه اچوونکې او مالیه ورکوونکې کمپنۍ ده چې د افغانستان د کلني داخلي عوایدو تقریبا ۵ سلنه برابروي. روشن په مستقیمه توګه ۹۰۰ افغانان په کار ګمارلي چې دهغو له جملي څخه ۱۹ سلنه یي ښځې دي. او همدارنګه ۳۵۰۰۰ افغانانو ته یې په غیر مستقیمه توګه د کار آسانتیا برابره کړې ده.

روشن د افغانستان بیارغوني او پرمختګ ته هراړخیزه ژمنتیا لري. د اقتصادي پرمختګ لپاره د آقا خان سپما (AKFED)، چې د آقا خان د پرمختیايي شبکې(AKDN) یوه برخه ده، د روشن تر ټولو ډیر پانګه اچوونکې دې چې په وروسته پاتې هیوادونو کې د اقتصادي زیربناګانو او شخصي تشبثاتو څخه ملاتړ کوي. همدارنګه دروشن یو اندازه پانګه اچونه د موناکو ټیلیکام انټرنیشنل (MTI) او تیلیا سونیرا له خوا تر سره شوې. روشن افغانستان ته نړیوال مهارتونه راوړي او د افغانانو لپاره د باکیفیته شبکې چمتو کولو ته ژمن دی.

د روشن په اړه د لا نورو معلوماتو لپاره www.roshan.af یا http://www.facebook.com/RoshanConnects ته مراجعه وکړئ. تاسو همدارنګه کولای شی مونږ د ټویټر له لارې roshanconnects@ تعقیب کړئ.


**د روشن سره د اړیکي لپاره**

شفیع شریفی

ایمیل: shafi.sharifi@roshan.af

ټلیفون: 0093799999065